# انتها پسندي، اې این پي او نفاذ عدل معاهده

هدایت الله خان

د پښتون ملت د جغرافیائي اهمیت او افادیت په وجه په دې سیمه د عالمي طاقتونو ترمنځه د غورزو پرزو تاریخ ډېر زوړ دے. په دغه تاریخ کښې د روس د ۱۹۱۷ء انقلاب زمونږ دپاره د بدمرغۍ سوب جوړ شو. د انقلاب راتلو سره یورپ، کلیسا او یهود د روس خلاف ملا وتړله. د روسي کمیونزم خلاف د دې اتحاد په پټ جنګ کښې د نازي جرمني په شکل کښې د مشترکه دښمنۍ په وجه د ۱۹۳۳ء نه تر ۱۹۴۵ء وقفه وه. د هغې نه پس چې جرمني ماتې وخوړه نو عالمي قیادت د یورپي طاقتونو برطانیې او فرانس نه روس او امریکې ته منتقل شو او دنیا په واضحه توګه په اشتراکي او سرمایه داري بلاکونو کښې تقسیم شوه. د دې سره د نوو عالمي قوتونو ترمنځه د یو سوړ جنګ اغاز وشو.

د ۱۹۴۵ نه پس د اشتراکیت مخالف قوتونو سازشونه د ډېرو مرحلو نه تېر شو چې فیصله کُن مرحله پکښې سوویت یونین د افغانستان په جبه کښې د ښښلولو سازش ؤ. د دې حقیقت نه ټول خبر دي چې د سردار داؤد خان د قتل او نورمحمد ترکي د راوستي انقلاب نه پس په افغانستان کښې شروع کړے شوے مداخلت او بیا وروستو فوځي یلغار په اصل کښې د دې اتحاد د سټېج شوي ډرامې په وجه وشو. د دې ډرامې تفصیل د هغه وخت د موقعې ګواه او د افغانستان ډپټي فارن منسټر عبدالصمد غوث په کتاب The fall of Afghanistan کښې موجود دے، د دې نه علاوه د ۱۹۷۹ء د کریملن د خفیه سرکاري فائلونو مطابق د نورمحمد ترکي په اقتدار کښې په راتلو د ماسکو حکمرانان حېران شوي وو، کومو چې د انقلاب نه وړاندې ترکي د یو پېغام په ذریعه د پوځي بغاوت په نتیجه کښې د ممکنه تباهۍ نه خبر کړے ؤ.

ترکي چې په مارچ ۱۹۷۹ء کښې د انقلاب د بچ کولو دپاره روس ته د مداخلت کوم اپیل کړے ؤ، هغه هغوي د دې هدایت سره رد کړے ؤ چې افغان حکمرانان دې د خپل جنګ دپاره د مزدور طبقې نه خلق بهرتي کړي. د دې ټېلي فونک اپیل نه پس ترکي په خپله د یو بل درخواست سره ماسکو ته لاړو خو وزیراعظم کوسیجن د دې وېنا سره دغه درخواست هم رد کړو چې د هغۀ (روس) دښمنان د مداخلت دپاره انتظار کوي چې د روس پوځونه افغانستان ته لاړ شي.

د دې حقائقو نه د امریکې، یورپ، د پاکستاني مقتدره او مذهبي حلقو د هغه مفروضو تردید کېږي چې ګڼي په افغانستان کښې د روس مداخلت د یوې تیارې منصوبې لاندې شوے ؤ. د کومې په ذریعه چې روس د افغانستان او پاکستان په ذریعه ګرمو اوبو ته د رسېدو خواهش لري. مختصراً دا چې په ۱۹۷۹ء کښې چې کله په نۀ زړۀ د روس فوځ افغانستان ته راغے نو د امریکې او یورپ هغه سازش کامیاب شو چې دوي ورته د نیمې صدۍ نه انتظار کاوۀ.

د دې سره امریکې، یورپ او یهودیانو په برصغیر کښې ازمائیلې شوې پخوانۍ نسخې د بیا پکارولو دپاره یو مکمله او جامع منصوبه بندي

وکړه. اسلام او د اسلام مئينان د خپلو مفادو دپاره پکار راوستل استعماري چال ډېر زوړ دے. د شلمې صدۍ په شروع کښې د افغانستان ترقي پسند او قام پرست حکمران اميرامان الله خان د افغانستان په نوو لاروچارو روانول او د تعمير او ترقۍ دپاره د هغه مبارزه وه کهٔ د پښتون ملت د عظيم راهبر باچا خان پښتنو ته د علم او شعور د رڼا ورکولو مقدس مشن. د ټولو خلاف پېرنګي سامراج د خپلو وظايف يافته ملايانو په ذريعه د اسلام نعره پکار راوستې وه خو دا ځل چې د اسلام نعره د سوويت يونين خلاف په کوم انداز پکار کړې شوه د هغې مثال نشته.

افغانستان ته د روسي فوځ راتګ او د دې په نتيجه کښې د اسلام په نوم د امريکې د جنګ نه وړاندې وړاندې په پاکستان کښې يو رجعت پسند فوځي آمر د تخت نشينۍ کار تر سره کړے شوے ؤ. جنرل ضياءالحق د خپل ناجائز اقتدار ته د دوام ورکولو او د دې د بريځو مذهبي جماعتونو دپاره د امريکې د ډالرو نه د فائدې وچتولو دا ډېره ښه موقعه وه.

د لکونو په شمېر کښې د مهاجرينو راتګ شروع شو، چې د هغوي دپاره په شلګونو جنګي تنظيمونه قائم کړے شو او په قبائلي علاقو کښې په سوونو مجاهد ساز جنګي تربيتي کېمپونه قائم کړے شو. هم د دې کېمپونو نه په لکونو ځوانان د شهادت د شوق پوره کولو دپاره افغانستان ته واستولي شو. د پښتنو بچو او ځوانانو ته کلاشنکوف او راکټ لانچر په اوږه کړے شو. اسلام اباد په دنيا کښې د سي آئي اې د موجودو لويو لويو اډو نه يوه اډه شوه او پېښور د عربيانو او نورو غېر ملکيانو مجاهدينو د ټولو نه لوئے مرکز جوړ شو. د ضياءالحق په جرنېلانو، اسټېبلېشمنټ، بېوروکرېسي او مذهبي ډلو په خصوصي توګه په جماعت اسلامي او جمعيت علماء اسلام د امريکې د ډالرو باران جوړ شو او بل طرفته د جهاد په نوم د کروړونو اربونو روپو فنډونه او چندې هم راټولولې شوې. د تربيتي مرکزونو سره سره د مذکوره مذهبي ډلو د سيوري لاندې د شلو زرو نه زياتو ديني مدرسونه هم د مجاهد سازۍ دپاره خام مال وراستولے شو. د دې حقيقت باوجود چې په مقامي توګه دوي ته مجاهدين ډېر په اسانه ترلاسه کېدل، دوي د مصر، اردن، شام، سعودي عرب او سوډان جرائم پېشه خلق د هغه ځائے د جېلونو نه راوباسل، ورته ئې د مجاهدين اسلام نقاب ور واچوو او په افغانستان او قبائلي علاقو کښې ئې اباد کړل. لنډه دا چې د پښتون وطن په دواړو برخو کښې د پښتنو نسل کُشي شروع شوه. دغسې د پښتنو يو لوئے شمېر ووژلے شو، يوه لويه برخه معذوره کړې شوه، د درېم شمېر نه تشدد پسند جوړ کړے شو او پاتې شوي خېرمار شو.

د اتيا د لسيزې په اخير کښې چې کله د روس فوځ د افغانستان نه ووتو نو کهٔ يو طرفته د جهاد اصل څهره خلقو ته ښکاره شوه نو بل طرفته ئې د جهاديانو د طاقت د افسانې حقيقت هم ظاهر کړو. د اقتدار دپاره په خپلو کښې لاس و ګرېوان کېدل، خانه کعبه کښې د شوو وعدو نه تښتېدل او د ډاکټر نجيب د پوځ د استقامت په نتيجه کښې د مجاهدينو ناکامي د دغې دور يو څو دلچسپ حقيقتونه دي. د تاريخ د دې قسط سرته په رسېدو د يو بل خونړي دور اغاز وشو. پاکستان د خپل سټرټېجک ژوروالي په غم کښې په قندهار کښې د مجاهدينو د ظلم نه تنګ نالوستي خو مهم جو د

جوشـه ډک ځوانـان را يـو ځـائے کـړل او دغسـې د طالبانو فنامنن مېنځ ته را غے چې د سترګو په رپ کښـې پـه کابـل قـابض شـو. دې دوران کښـې د پښتونخوا او قبائلي علاقو نالوستي مذهب پرستو او مجاهدينو دپاره افغانستان د جنت په مثال شو چـې د طالبـانو سـره ئـې اوږه پـه اوږه د مخـالف مجاهدينو سره جهاد وکړو. د دې نه پس د ۱۱/۹ په پـس منظـر کښـې چـې کلـه امريکـې د طالبـانو دحکومت خاتمه وکړه او د دې سره د اور او وينې د يوې نوې لوبې اغاز وشو چې تر اوسه جاري دے. نن چې د طالبانو په شکل کښې قوم د کوم ناسُور ښکار دے، د دې د ذمه واريو او ابياريو تفصيل ډېر اوږد دے خو دومره و ئيل ضروري دي چې دا خبره لکه د نمر روښانه ده چې د طالبانو په جوړولو او روزلو کښې د اې اين پي يا د دې د وړاندينيو مشرانو هيڅ برخه نشته او د نن د ټولو نه زيات نقصان ئې هم دوي ته کېږي او نن د دغې ګند صفا کولو بوج په اې اين پي را اچولے شوے دے.

دلته دا خبره هم د توجه وړ ده چې د اې اين پي مشرانو ډېر مخکښې دا آفت په ګوته کړے ؤ. د پښتون ملت د قدر وړ هستۍ او دجنګ ازادۍ ستر مشر باچا خان په ۱۹٤٦کې د پېرنګي جرنېل منټګمري د پېښور د دورې په موقعه وئيلي وو، د يو جنګ نه د اوزګارېدو نه پس دا جرنېل د خپل راتلونکي جنګ دپاره د پښتون وطن جائزې اخستو له راغلے دے. په ۱۹۸۰ء کښې چې کله دا پېښ ګوئي ټيک ثابته شوه نو بيا هم باچا خان پاکستاني حکمرانان، عوام او په خاصه توګه پښتانۀ د دې د اصليت او تباهۍ نه خبر کړل، دې ته ئې د روس خلاف د امريکې جنګ ووئيل. نن چې کوم جنګ ته قاضي حسېن احمد او مولانا فضل الرحمان د امريکې جنګ وائي دا دهغې جنګ ثمرات دي چې دوي بـه ورتـه د اسـلام جنـګ او جهـاد وئيـل. ۱۹۸۲/۸۳ء کښې د امريکې او کېښېدا د سفيرانو سره يوملاقات کښې ولي خان وئيلي وو چې نن چې د نظم و ضبط او قانون نه نا اشنا ځوانانو ته تاسو کومه وسله ورکوئ، سبا چې ستاسو جنګ ختم شي نو دا وسله وال به زمونږ په معاشره راوخېژي.

ګو چې د طالبانو يا دهشت ګردو خلاف جاري جنګ پوره ملک، عوام بلکې ټول عالمي صورت حال متاثره کړے دے خو دا يولوئے حقيقت دے چې دې جنګ د ټولو نه زيات نقصان پښتنو ته رسولے دے. لاندې مونږ په دې حواله د جوړ شوي صورت حال، واقعاتو او د ځنو سياسي او مذهبي ډلو او د قلم د خاوندانو او دانشورانو طبقې د خلقو په رويو بحث کوو.

دا خبـره د يـادونې وړ ده چـې د پاکسـتان پـه سياسي تاريخ کښې سياسي ډلو، مذهبي حلقو، دانشورانو، سرکاري ايجنسيو، نجي اخبارونو او سـرکاري مېـډيا د دې جماعـت د دې د پـېش رو تحريـک او د هغـې مشـران سـره بـدترين تعصـب وساتلو، تر دې چې يو وخت پورې خو د سفارت يا وزارت د حصـول دپـاره د حـب الـوطنۍ د سـند اخستو دپاره د دې تحريک او مشرانو خلاف الزام تراشۍ ضروري ګڼلې شوه. بل طرفته دا هم يو حقيقت دے چې اې اين پي چرته هم د دې ځواب ورکول ضروري نۀ دي ګڼلي، بلکې د قامي حقونو دپاره سياسي جنګ ئې خپل مقصد ګرځولے دے او نن هم دغه صورتحال دے چې اې اين پي د ټولو مخالفينو د بې سر و پښو الزامونو نه يو طرفته د قام اولس او وطن دپاره په خپلو هلو ځلو کښې بوخته ده.